# د ملالي ټپه

بدرالحکیم حکیم زے

www.pukhto.net

# ترون

په مینه

زما د خوږو بچو :-

ګلالۍ ، څلا ، ګل پاڼې ، اتل خان او اوښار خان

په خوا خوږۍ

زما د بې وسه اولس :-

چې چا په لمبولو کښې مړۀ کړۀ او چا په نچوړولو کښې -

# پېژندګلو

د کتاب نوم ................. د ملا لۍ ټپه

لیکوال ................. بدرالحکیم حکیم زے

www.pukhto.net

خوروونکے ................. مشال پښتو تولنه، مټه سوات

کمپوټری لیکنه ................. لقمان حکیم

دچاپ کال ................. اپریل ۲۰۱۴ء

پریس .................

شمېر ................. ۵۰۰

www.pukhto.net

# ليکلړ



| گڼه | سرليکونه |
| --- | --- |
| 1. | سريزه |
| 2. | تيندك |
| 3. | دب پاکول غواړی |
| 4. | زياتے و |
| 5. | د ملالی ټپه |
| 6. | وران و |
| 7. | گرانه بابا جانه |
| 8. | پاربدلي اوبه |



www.pukhto.net

# سریزه

هر څیز د ارتقاء د عمل نه تېرېږي ـ او د وخت د تقاضو سره سم خپل خوند ، رنګ او جوسه بدلوي ـ دغه قصه د قصې هم ده ـ قصه خپل يو زوړ او قديم تاريخ لري ـ دومره زوړ او قديم څومره چې د انساني ژوند تاريخ زوړ او قديم دے ـ د وخت د تقاضو سره دا په يو رنګ او شکل کښې نۀ ده پاتې شوې او خپل ارتقائي سفر ئې جاري ساتلے دے ـ او د وخت سره ئې خپل ځان په نوي نوي شکل کښې څرګند کړے دے ـ قصه ګۍ ، داستان ، ناول او افسانه او داسې نور داستاني توکي د يو زنځير کړۍ دي ـ افسانې په مغرب کښې سترګې غړولې دي او بيا وروسته د هندوستان د نورو ژبو تر څنګه پښتو ته رارسېدلې ده ـ دلته ئې دغه سفر د راحت زاخيلي له کوره شروع کړې او تر دې دمه ئې د پښتونخوا په لرو بر کښې خپل سفر جاري ساتلے دے ـ په خپل دې سفر کښې د بدرالحکيم حکيم زي سره هم معرفي شوې ده ـ

لکه څنګه چې د هر ليکوال خپل اسلوب او انداز وي کوم چې ددغه ليکوال پېژندګلو جوړېږي ـ حکيم زے صېب هم خپل يو منفرد اسلوب لري چې د هغۀ پېژندګلو اسانوي ـ حکيم زے دا کوشش کوي چې سوچه پښتو وليکي ـ هم دغه وجه ده چې په خپل ليک کښې ئې ببن الافغاني لهجه پکار راوستې ده ـ کومه چې لوئے ملي مبارز پير روښان او ستر خوشحال خان هم پکار کړې وه ـ د حکيم زي په ليک کښې د سجع د التزام کوشش هم په نظر راځي ـ لکه : د سين توندو او څپاندو چپو ، د سړو او پستو بادونو استازي شا و خوا ګرځول چې نپ زپلي ئې خپلو اروا ټکوروتکو يخو غاړو ته رابلل ـ ډوډۍ وړومبۍ ده ، خبره وروستۍ ده ـ پيران راغلي دي ـ رسېدلي ولياد دي او د خدائے نازبينان دي ـ

حکيم زے صېب په فکري لحاظ يو وطن دوست ،

پښتون دوست او قام پرست سړے دے ـ دا ذهني رجحان ئې ماته ددۀ د يوې بلې مجموعې ,, دا مزے غوځول غواړي،، نه په ډاګه شوے دے ـ اوس په دې ټولګي کښې هم دغه فکر او پېغام مخې ته بيا ئي ـ په دې ټولګي کښې يوه افسانه تيندک ده چې يوه علامتي افسانه ده ـ په دې افسانه کښې وطن د مور ، آزادي د پېغلې ، سياستدان د ډاکټر ، حکومت د ونې او اقتدار د غر د علامت په توګه پکارولے شوي دي او په ډېره ښۀ توګه په کښې د حکومت د چلووُنکو غولونکي نعرې ، سياست ، پاليسي او عمل په ګوته کړے شوے دے او دا په کښې په ډاګه کړے شوې ده چې سياسي خلق د خپلو سياسي مفاداتو په خاطر د خلقو د جذباتو سره لوبې کوي ـ او د اولس د ستونزو او مشکلاتو هوارولو په ځائے خپلو ذاتي مفاداتو ته زياته توجه ورکوي ـ ,, ډب پاکول غواړي ،و هم يوه علامتي افسانه ده چې ماهر افسانه نګار په کښې سوشلستي فکر په ډېر ښکلي انداز مخې ته راوړے دے او د طبقاتي او استحصالي نظام بده څېره ئې په ګوته کړې ده ـ ,,زياتے وُ ،، افسانه هم خالص د انساني او افاقي موضوعاتو سره اړه لري ، چې په کښې د عام وګړي او اولس هغه بنيادي مسائل او مشکلات مخې ته راوړے شوي دي ، په کوم کښې چې قانون او ادارې د وسلې په حېث استعمالېږي ـ په دې افسانه کښې د طبقاتي او استحصالي نظام غندنه شوې ده او هم دغه نظام دے چې په نتيجه کښې ئې ردعمل او انقلاب پېداکيږي ـ د ملالې ټپه نومې افسانه بيانيه اندازلري ـ په دې افسانه کښې افسانه نګار د سوات د اپرېشن د شروع کېدو او د اولس د مهاجرت مناظر ښودلي دي ـ دغه رنګ د اپرېشن د وجې د سوات د اولس سختې ، تکليفونه او ستونزې ئې د خپل قلم موضوع جوړه کړې ده ـ ددې افسانو تر څنګه په دې ټولګي کښې درې تاثرات هم شاملي دي ـ يو تاثر په کښې ,, وران وُ ،، شامل دے ـ په دې تاثر کښې ئې د خپل کلي د سکول د ورانېدو په مثال ورکولو سره د پاکستان د ادارو ناقصتيا ته ګوته نيولې ده او د بدامنۍ غټ او اصل سبب ئې د نظام ګډ وډتيا ګڼلې ده ـ بل تاثر د ,, ګرانه بابا جانه ،، په نوم

www.pukhto.net

دے ۔ چې ئې په کښې د پښتنو په بده ورځ خپل خفګان ښکاره کړے دے او پښتون ملت ته ئې د اتفاق ، اتحاد ، سیاسي او شعوري بېدارئ غږ کړے دے ۔ دریم تاثر د ,, پارېدلې اوبهٔ ،، په نامه دے ۔ په دې کښې د ۲۰۱۰ء د سېلاب د تباه کاریانو او په هغې کښې د مالي او خصوصاً جاني نقصان باندې یو روح څورونکے تاثر وړاندې شوے دے ۔

دا حقیقت دے چې یو فنپاره د خپل فنکار د شخصیت ، فکر او قابلیت عکاسي کوي ۔ دا تولګے یعني ,,د ملالې تپه ،، د حکیم زي صېب دهنري او علمي معیار سمه نمائندګي کوي ۔ د هغهٔ علمي معیار خو شخصي طور څکه زهٔ ښهٔ پېژنم چې دلته په پښتو څانګه کښې د پي ایچ ډي سکالر او بیا درې څلور کاله د لکچرار په حېث پاتې شوے دے ۔ ښهٔ سړیتوب ، د خپلې پېشې او ذمه وارئ سره اخلاص، علمي او هنري استعداد ئې مونږ د نزدې نه لیدلے او محسوس کړے دے ۔ خو لوستونکي به هم ددې لیک په لوستلو سره یقیناً زما د رائې تائید وکړي ۔ هره افسانه ئې د ښې افسانې ضرورتونه پوره کوي ۔ د ښکلو الفاظو انتخاب کوي ۔ الفاظو ته ښکلے ترتیب ورکوي ۔ مسجع مقفٰی انداز ئې د کلاسیکي نثر یاد تازه کوي ۔ چستي ، جذباتیت ، تجسس، منظر کشي ، کردارنګاري او اختصار ئې د تعریف قابل دي ۔ حکیم زے صېب حقیقت پسند لیکوال دے او خپلې قصې پلاټ د خپلې معاشرې د ژوندو حقیقتونو نه جوړوي ۔ هغه څهٔ لیکي چې پښتون اولس ته ئې ضرورت دے۔ د پښتون ملت دوړمنې څېرې ته آئینه نیسي او بیا د مخ د پاکولو په هنر ئې هم پوهوي ۔ تر څو چې د حکیم زي د تاثراتو د لیکلو خبره ده ، نو دا ادبي توکے پخوا زما د نظره نهٔ دے تېر شوے ۔ داسې تاثر چې د افسانې غوندې قصه هم لري ، ماته د حکیم زي صېب ایجاد ښکاري ۔ هر تاثر ئې د جذبې او صداقت خوبي لري ۔ لنده دا چې د حکیم زي صېب لیکونه به انشاء الله د پښتو ادب په خزانه کښې یوه قیمتي اضافه ثابته شي ۔ پښتون ملت ته او خصوصاً پښتون لیکوالانو ته به دمېوند د ملالې تپه شي او پښتانهٔ به د پښتو ژبې او ادب او پښتون وطن خدمت ته راوبلي

-

حکيم زي صيب ته د خدائے نه اوږد ژوند او نور همت غواړم چې خپل دا قابل قدر کار جاري وساتلے شي ـ

آمين

ډاکټر شکيل احمد
پېښور پوهنتون

۵ اپرېل ۲۰۱۴ء

Pukhto.Net پښتو

بسم الله الرحمن الرحيم

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

# تيندك

Pukhto.Net
پښتو

## تيندك

ټکنه غرمه وه. دهاړ سرو غرمو د سر په کټوۍ کښې

www.pukhto.net

مازغهٔ ایشول. نوم بنیادم چاپېره نهٔ ښکارېدهٔ. نهٔ په هاغه دنګ چنار کښې چنچنې چنېدې او نهٔ په دغه لوے ډاګ کښې ماشومان لوبېدل. داسې چوپه چوپتیا وه لکه چې دا کلے نهٔ وی ادیره وی یا یې ټولو اوسېدونکو ګونګ اېښے وی. خان ګل یوازینے کس و چې د ګس اړخ له هاغې تنګې کوڅې نه را دوخار شو او په مخامخ نېغه لار چې سین ته وتلې ده، روان شو. په ټول تن یې لمر د خپلو اور ورینو وړانګو تاودهٔ بڅری ورول. نوی ټوکیدلی بریت یې د غټ او غوند مخ په خولو لامدهٔ خوشتهٔ وو. د خپلې سادوبۍ کمولو لپاره یې نهٔ د ګرېوان لپاسنۍ تنۍ تړلې وه او نهٔ یې لستونی وروستلی وو. ګړندے روان و، ګړندے څه چې کله کله خو یې پښو د منډې چال غوره کاوهٔ. لږه شیبه پس د سین غاړې ته نېږدې شو. دلته د ګرمۍ د شیشکې داړې لږې پخې وی. د سین توندو او څپاندو چپو د سرو او پستو بادونو استازی شاوخوا ګرځول چې تپ زیلی یې خپلو اروا ټکورونکو یخو غاړو ته رابلل. خو خان ګل سین ته د تللو پخاے د حاجی صبب د کور ورهٔ ته ودرید. څه ښائسته ور و. داسې غټ کټ او دنګ لوړ چې د برکت ډېرۍ وه. د درانهٔ زنځیر له شنولو نه وړاندې یې له ځانه سره وویل:

هاغه لاسونه به څنګه خاورې شی او هاغه سولے ستکے به له چا څه هېر شی چې داسې په زړهٔ پورې ګلکاری یې کړې وی. خان ګل په پرله پسې ډول درې کرته زنځیر وشنا وهٔ، خو له کوره نهٔ لوے راووت او نهٔ وړوکے. د یو ځل بیا شنولو لپاره چې یې لاس زنځیر ته پورته کړ نو ورله هغې خوا له نرۍ کړس سره نیم کښ شو. د ازل لیکلی څوک نورولے شی. هاغه څه وشول چې د دواړو په نیت او ګومان کښې نهٔ وو. سترګې یې ولګېدې، داسې جوختې ولګېدې چې سمې نوکارې یې ښخې کړې. اخوا ګلپانه د یو نا اشنا احساس له مخې توله خولې خولې شوه. او دیخوا د زلمی په مخ د خولو لختی چپې چپې شول د خان ګل زړهٔ غوښتل او که نهٔ غوښتل خو سترګې یې له حیا نه ښکته کړې او ګلپانې هم پلو پرونے سم کړل او د ورهٔ تمبه یې پورې کړه. یوه شیبه وروسته کله

www.pukhto.net

چې د خان ګل د زړهٔ دربا لړه په وار شوه نو په سانیولی غږ یې تپوس وکړ:
حاجی صېب کور دے؟
ګلپاڼې په داسې حال کښې چې سر ترپایه بوږنېده، په رپاندو شونډو ځواب ورکړ:
پلار مې اوس کور نشته. پسې يې زياته کړه. ته څوك يې او څه ورته ويل غواړې؟
د غبرګون په ترخ کښې د خان ګل ګانګوړه ژبې ایله دا تکی د هوا چپو ته وسپارل:
زهٔ د بر پلو د سپين دا زوے خان ګل يم. له حاجی صېب نه مې دهاغه پوهه درملوال (ډاکټر) درك پوښته چې هغه يې تل د مړنتوب ستاينه کوی. که خبر وی زهٔ به ماښام بيا د حاجی صېب لیدو کتو ته راشم.
پېغله بیرته د مندو په لور روانه شوه. رنګ یې الوتے او ګونه یې د نری رنځ د رنځور غوندې زیړه زبېښلې تښتېدلې وه. په زور زور يې ساه زر زر ایسته ننېسته. لاړه او په مندو کښې پروت د څرمنې په کټ کښې بې ځانه بې حاله پرېوته. د سر پړونے يې په ځان راخور کړ، سترګې يې پټې کړې او په ژورو اندونو کښې ورکه شوه. داسې نهٔ وه چې یوازې د ګلپاڼې د زړهٔ په ورشو کښې څه نا اشنا سیلۍ چلن وکړبلکې د خان ګل د فکر دنیا هم په بله واوښته. وړومبے که يې د مور نهٔ رغېدونکې ناروغۍ سر په سندان ټکاوهٔ نو اوس د مینې لړم هم د زړهٔ په سر وچیچهٔ. که کاواك کاواك راغلے و نو لېونے لېونے ستون شو.
د دواړو ماښام ته تادی وه. دواړو غوښتل چې مازیګر دې له مینځه ووځی او په ماسپخین پسې دې سمدلاسه د ماښام ترووږمے وغزيږی. دواړو په لمر باندې نن د ګودې ګودې پښې تور لګاوهٔ او د تولان پڅائے يې ورته د ترپکو وهلو سپارښتنه کوله. که د سترګو رپ د دوی لپاره له کال هومره اوږدې مودې سره سیالی کوله خو بیا هم وخت و، تېردهٔ او اخر تېر شو. د ماښام په تورو لړو کښې د زمکې ښکلا په پټېدو شوه او خان ګل

www.pukhto.net

د ګلپاڼي د کور لار ونيوه. وروروسېد او له مخې سره يې د زنځير په شنولو لاس پورې کړ. حاجي صېب هم په دغه ساعت له مانځه نه راګرځېدلے و او لګيا و په ډوډۍ پسې يې لاسونه وينځل چې د ورځ په ټکېدو ورچنې راووت. له خان ګل سره يې جوړتازه وکړل. په داسې حال کښې چې له اکرو يې د اخلاص چينې خوټکېدې، وويل:

ګلپاڼي لور مې راته ټوله قيصه کړې ده خو ډوډۍ وړومبۍ ده او خبره وروستۍ ده.

دغه کلك ست ته ناد چا پلار هم نۀ شو ويلے. خان ګل په بېټك کښې يو غټ بالښت ته ډډه شو او حاجي صېب کورته ورننوت. په ډېر رانۀ وچولی او مينه ناك ګړدود يې مېرمنې ته وويل:

زۀ به ډوډۍ له مېلمه سره يوځائے خورم. انګولے لږ سم راسم کړه. خان ګل په ما ډېر ګران دے. د دۀ له پلار سره زما ډېر خوږوالے او ورورۍ ده.

ګلپاڼي چې د خان ګل نوم واوريد نو د سول او قلارۍ واګے يې بيخي پرېوکے شو. لاسونه يې رپېدل او پښو يې ګړګوزې وهلې. کله به په ځمځۍ ورپه دو کېده او کله په کټوۍ. د هر انګولی به يې بيا بيا ننداره کوله. په چا کښې ورته مرچ لږ ښکارېدل او په چا کښې غوړی. سلاد جوړولو خو ډېره زياته وځوروله. که هر ډول ګل يې ترې جوړاوۀ خو سترګې يې پرې نۀ خوږېدې.

ډوډۍ تياره شوه او حاجي صېب بېټك ته يوړه. د ډوډۍ خوړلو په مهال حاجي صېب د خبرې سر داسې ونښلاوۀ:

ما نۀ ګڼله چې ستا د مور ناجوړتيا به دومره کړکېچنه شي، ګني ما به سم له واره درته د دغه پوهه درملوال ځائے ځاېګے درښودلے وے. هغه ځينې ليك لوست په ماسکو کښې کړے دے او څه سندونه يې له پېرسه راوړې دی. په ښار کښې يې استوګنه ده، د نامې جامې خاوند دے او لوے وارۀ يې پېژني. بيا تۀ خو يو لوستے زلمے يې، د چا درك موندل دې د ګس لاس کار دے.

www.pukhto.net

خان ګل په ساهو اواز ورغبرګه کړه:
په ښکاره خو دغه ناروغی ډېره پیچلي نهٔ ښکارېده، ولې دغه دے له سلو څخه یې زیاتې ورځې وشوې او د وتو نوم په خله نهٔ اخلی. نهٔ مو په منډه ترړه څه اسره کړې ده او نهٔ مو په پېسو موټے کلك کړے دے خو د خدائے به لا نهٔ وی خوښه.
حاجی صېب دهغه خبره پرې کړه او د خپلو خبرو لړۍ یې داسې وغزوله:
منده هله ګټوره وی چې د کوم پاخهٔ پوهاند له غوره لارښوونې سره سم په نېغه او روغه لاره تر سره شی. که چرې لاره د موخې (منزل) په لور نه ځی نو منډې پرې وهل بې ځایه پېښې مرغاړی کول دی.
د ډوډۍ له خوړلو څخه پس خان ګل درك ترلاسه کړ او له حاجی صېب سره یې خدائے په امانی وکړه. سم له سحره مور او زوے د ښار په لور وخوځېدل. څنګه چې ورسېدل نو نېغ د درملوال کتنځی ته لاړل. د کتنځی د بهرنی ورهٔ لپاسه د سوررنګ یوه تخته لګېدلې وه. په تخته یې په غټو ټکو لیکلی وو، ډاکټر خان درملی خان. په کتنځی دننه د ناروغانو سمه هله ګوله جوړه وه. څوك درملوال ته په قطار کښې ناست وو او چا ازمېښتون ته وټ ننوت کاوهٔ. دې ګڼې ګوڼې د درملوال په پوهه د خان ګل باور نوم هم کوټلے ترینګلے کړ. د هغه ښودلی شنهٔ زرغون داروګان چې په سور کاغذ کښې بند وو، هم دهغه په درملتون کښې یې واخیستل. او هم د هغه له ښوونې سره سم یې مور ته په خوړلو زور ورکاوهٔ. د بیا بیا کتنې لپاره یې دغلته د ناروغه بوتلل راوستل په ډېر داډ او هیله کول.
ښار ته یې تګ راتګ خو په پنځمه یا لسمه ورځ کاوهٔ ولې د ګلپاڼې د کور کوڅه یې هره ورځ مړله سولوله. مازیګر چې به د لمر لشه لږه پڅه شوه نو خان ګل به د سین غاړه د سا تیری لپاره تر ټولو غوره ځائے وګڼهٔ. واسکټ به یې په ګوتو وځاندهٔ او پیښوری څپلۍ به یې په شوړه توږې وپړقولې. چاق چاق او چټك چټك به له کوره وخوځېد خو د ګلپاڼې کوڅه

چې به رالنده شوه نو په ټول تن به يې ميرګۍ پېريان ورپره شول. ټول وجود به يې د تلوسې په رپړد رپېدۀ.
شاوخوا به يې وارخطا وارخطا کتل. د ګل پاڼې د دروازې رسا مخې ته به يې هيڅ بې هيڅه د چڼيا په سمولو پسې لاسونه وخاربښتېدل. ګلپانه به هم مازيګر مهال د کور په هر ګوټ کښې ډنډارو چيچله. د ماشوم ورور د قلارولو په بانه به د دروازې خوا ته خواته کېده. کله کله به يې وړوکے بهر وتلو ته و هڅاوۀ او بيا د هغه د راتينګولو رانيولو لپاره به يې سر څه چې پښه هم له درشلې واړوله. په خله خو به يې داسې نارې وهلې چې راحۀ هلکه، څاروى به دې وچقوى، لختې ته به ارتاو شې خو سترګې يې د خان ګل څارنې له زېزمو لو پړولې.
يو ځل کله چې له ورايه د خان ګل په ښکالو پوهه شوه نو بيرته ننوته. په نيم کښې ورۀ کښې ودرېده او د پستو او نرو ګلرنګه شونډو څخه يې دا ټکى په ناز ناز او په خوند خوند راووتل:
يه هلکه نۀ راځې کنه، ښه ده زما درسره ورانه ده.
خان ګل په داسې حال کښې چې نبغ مخې ته يې کتل په تت غږ ووېل:
ورانه خو هسې هم ده، نوره به څه ورانه شى. زما د زړۀ جونګړه او زما د زړۀ دنياګۍ خو ړنګه بنګه او دړې وړې شوه. د ورۀ په چونډ کښې لنډ مهاله ليدنې دواړو ته دا اجازه نۀ ورکوله چې په خلاص مټ د زړۀ زنګونه وتوړى. خان ګل دې کړونکې ستونزې ته د هوارى دا لار غوره وبلله چې ليکانے پکار راولى. ويې غوښتل چې د خپل زړۀ په جل وهلى بڼ کښې د نارېژېدلو ارمانونو تاو زپلې پاڼې د قلم په لکړه راټنډ وهى، د کاغذ په سپين څادر کښې يې ونغاړى او د ګلپاڼې ګوتو ته يې له دې واك ورکولو سره وسپارى چې سوزوى يې او که بلوى يې. ويې ليکل:
ګرانى، نا، ګرانې نۀ، ډېرې ډېرې ګرانې، ګلپاڼې.
سلامونه! زۀ پوهېږم چې د سوى اروا سوے او د پرهر ژلى زړګى څړيکې بيانول نۀ د "الف" له چاره دى او نۀ يې تر "يې" پورې د توليې خوارې دلې. خو بيا هم لکه اسويلے چې د

www.pukhto.net

زړهٔ د لمبو لوګے دے، هم دغه شان تکے د نکېړنو ګوټ استازے ګڼلاے شو. خدائے دې وکړی چې زما د هر توری په څېره کښې تاته زما د خوږین زړګی تناکې تر سترګو شی. زما مور چې زما لپاره د جنت د کشمالو وږمه ده، د ناجوړتیا ناړامه اسونه يې په پښو کښې مړی رامړی. د هغې دغه بې لوره (ظالمه) ناروغی که مې له یوې خوا د زړهٔ په غوښو چکونه لګوی نو له بلې خوا يې د کور په هر طاق او تونۍ پسې جاروګۍ راخیستې ده.

نهٔ مې په جېب کښې پېسه پاتې شوه او نهٔ په خمبه کښې دانه. له دغې سادوبۍ سیادلۍ څخه مې لاساه اخیستې نهٔ وه چې ستا د مینې تندرین نیز مې د سول ودانی نسکوره کړه. شپې شوګیرۍ تېروم او په ویښه خوبونه وینم. د خوب په هره توټه کښې ستا د مینې په ګلمخې ناوه کښې سیلونه کووم. د خیال په هر توك کښې ستا د ملالو سترګو په ننداره یم. د فکر په هره برخه کښې ستا اوږدو زرزری زلفو ته د سرو ګلابو غونچې وړم. د هوا په تخته ستا د ښائسته بشرې انځورونه رغوم. د سین په چپو ستا د مرمرینو اننګو ولونه جوړوم. ستا د مینې لېونتوب، هم ستا د مینې لېونتوب مې سر ته ختلے دے او زما د تن هر اندام يې په خپل واك کښې نیولے دے. ګلپاڼې که ته زما نهٔ شوې نو زهٔ به هم د ځان او جهان نهٔ شم. ځان به په خړسین لاهو کړم. مهو خوږلے ښه یم خو بېلتون زغملاے نهٔ شم. مور مې دا وخت له لاده باده پرېوتې ده، چې لږه غوندې ګوزاره يې وشی نو درلېږم يې چې ستا مور او پلار ته د خواست جولۍ وغوړوی. زهٔ هغو شیبو ته دېر لېواله یم چې زما او ستا تر مینځه هر شپول مات کړی او هر دېوال ونړوی.

د خدائے په امان.

ستا او تول په تولہ ستا، خان ګل

دغه هم د پخوا پشان یو زیړے مازیګر و، ماشوم له دروازې بهر و، هم هاغه لرګین پرتمین ور و او د ګلپاڼې سر ته خلاصېدهٔ بندیدهٔ. خان ګل چې څنګه د ورهٔ تر څنګه تېریدهٔ نو د ترخ له جېبه يې خط د لاس ډاګی ته وسپارهٔ. چپ چاپېره يې

www.pukhto.net

وکتل او داسې سم او رسا یې د ګلپاڼې پښتو ته غوځار کړ لکه په لکوتوالی چې د قوتی نامتو لوبغاړے پاتې شوے وی. ګلپانه یې هم پورته کولو ته د بریښنا په چال ورښکته شوه. په داسې حال کښې چې له شرمه یې د تن تولې وینې د مخ په ډنډ کښې چپې وهلې، د ویرې یخه خوله پرې راماته وه، کوتې ته ننوته.

ګلپانه په دې رښتیا ښه خبر وه چې د مینه والو تر مینځه د ځوابی خط په استولو کښې وروسته پسته کول د باور مزے اوپره کوی، نو ځکه یې سم له ټکه ترلسمه په زوت کړو ټکو پسې د یاد کځوړه وسپړده. له اوښلو چانولو څخه پس یې ځینې توری داسې پرله پوری کړل:

د سترګو توره او د زړهٔ ټکوره، خان ګله!

سلامونه! کاش زما هر ټکی تاته په چغو چرچقو ویلاے شوے چې ستا د مینې ناتاری ځمکرپړد (زلزلې) زما د زړهٔ بالا کوټ لوټې لوټې او کنډر کنډر کړے دے. هم دومره ژوبله ژوبله یم لکه ځومره چې پرهر پرهر یې. که ستا سترګې اوښکې څڅوی نو زما زړهٔ وینې تویوی. زما خانه، زما ګله! څوك وایی چې ښکلا ګل نهٔ دے او د چا وینا ده چې مینه بلبل نهٔ دے؟ چې ګل او بلبل سره بیل وی نو د خوشی چمن بې ساه سپرلے به څوك څه وستایی. ستا جدایی راته د خداے ارته او ښایسته دنیا لکه د لحد تنګه او بدرنګه کړې ده. ساه اخلم خو په ژوندو کښې مړے یم. هر څه ته ګورم خو وینم هیڅ نهٔ. هر غږ می د غوږ پردې ته رسی خو اورم هیڅ نهٔ. زړهٔ مې له هره کاره تور دے. نهٔ په ژوند پوهیږم نهٔ یې په خوند. خوند به هله وکړی چې د مینې روښانه مشال مو په لاس کښې وی، د خواخوږی چتری مو په سر وی، د اخلاص سفری توښه مو په زړهٔ کښې وی، د ځان ځاروني وسله مو په غاړه وی او دواړه د ژوند په لویه لاره همغاړی روان شو.

په ډېر درناوی، ستا او سرترپایه ستا، ګلپانه

د خطونو تګ راتګ څه و، د مینې او پېرزوینې ډالۍ وې چې تلې راتلې. د هر خط هر ټکی دواړو ته د خوشحاله ژوند هیله او د روښانه سباؤن ډاډ ورکاوهٔ. اوس خبره د خان

ګل د مور جوړېدو ته ډب وه. خان ګل به ګلپاڼي ته په خط کښې بیا بیا خواست کاوهٔ:

تهٔ دعا کوه چې زما مور خدائے زر تر زره جوړه کړی. هغه زما لپاره د ژوند په ویلی کوونکو غرمو کښې د چنار یخ سېورے دے. زما د دعا ځائے دے، خدائے دې تل ودان ساتی. ګل پاڼهٔ کله د چا وېنا ته ایساره وه. هغې خو به له ځانه هر ماښام ککوړی منل چې د خان ګل مور خدائے جوړه کړی. جوړه څه چې روغه رمټه یې کړی او نېغه د هغوی کره راشی. جولۍ وغوړوی او ډولۍ وغواړی.

سرے نهٔ شی ویلاے چې د چا سترګې ورپسې وې او که هسې یې د کړاو برخه وه چې د خان ګل په مور د ناروغۍ نوکارې ورځ تر ورځه نورې ښخېدې او کلکېدې. د خان ګل ښار ته تګ راتګ نور هم ګړندے شو. پنډ پنډ داروګان یې په واروار راوړل خو لمنډه پازه یې نهٔ کوله. ناڅاپه په لروبر کښې عجیبه اوازې انګازې خورې شوې. په هره خله کښې دغه خبره وه او په هر غوږ کښې دغه ګونګوسے و. چا ویل، شکر دے، ایله به له عذابه خلاص شو. چا ویل، خدایه پرده مو وساتې، په لانجه وانهٔ وړو. دا غږ د خان ګل غوږ ته هم ورسېد. یو کس ورته په ډېره خواخوږۍ وویل:

پیران راغلی دی. رسېدلی ولیان دی او د خدائے نازبینان دی. یو یا دوه نهٔ دی، پوره اووهٔ دی. د هرې ناروغۍ دم ورسره شته. اخوا دېخوا مه ګرځه، نېغ پسې ورشه.

هر څو که خان ګل په دم دورحه او ساخت تعویذ باور نهٔ درلود خو سین اخیستے څک ته هم لاس اچوی. ګلپاڼه یې هم وپوښتله. هغې ورته د سلا په دود وویل:

اے لاړشه پسې لاړشه، څه پته لګی که دغه د حفیظ د لاس غرګے شی.

خان ګل سره له موره هاغه پنډغالی ته وخوځېد چې نوموړی پیران په کښې ډېره وو. هلته سمه هله ګوله وه. بې خرته ګڼه ګوره وه. په یو غټ ډاګ کښې دغه پیران ولاړ وو. چا لونګی تړلې وی او چا پټکی وهلی وو. د چا ټوپۍ سپینې وې

www.pukhto.net

او د چا برګې، په سپینو سوچه زیرو او تکو سپینو جامو کښې داسې سپین سپیځلی بریښیدل چې تا به ویل په مخونو کښې یې د نور اباسین خرشکې وهی. په دوی کښې یو ولی دریځ ته وخوت او په ژړغونی غږ یې داسې وویل:

د دغه مخامخ غرهٔ په سر یو شیطانی بوټے ولاړ دے. زهرجنې هواګانې ترې خورېږی چې ناروغی ترې ولاړېږی. ځکه نو د ډېرو وګړو له سرو او سپینو ځېرو څخه سپېرې ایرې څنېږی.

بیا یې یو ډولے کتاب په لاس کښې پورته کړ او په دادمن ډول یې وویل:

په دې کتاب کښې د دغه بوټی د سمېدو رغېدو دم دے او یوازې مونږ یې اجازه پخه کړې ده. ډېر ځله مو ډېر ځایه ازمولے دے. که بوټے ښه شوے نهٔ دے نو مړاوے شوے خامخا دے. اوس ستاسو د ښېګړې لپاره به مونږ اووهٔ واړه پیران د دغه غرهٔ څوکې ته خېژو. د بوټی لاندې به پنځه ورځې چېله کېږو او شپه او ورځ به یې دموو. باور درکوم چې په تاکلې نېټه کښې دننه به زېړے واورئ. د بوټی هر ښاخ به د زهرو پځائے ګبین څڅوی. هره څانګه به یې داسې وړمې خوروی چې د هرې ناروغی نوغے به وباسی. خو خوږو ملګرو! دغه شیطانی بوټے قابو کول دومره اسان او ویړیا نهٔ دی، ډېر روحانی زور غواړی. د روحانی زور زیاتولو په لړ کښې ستاسو ملاتړ ته اړ یو. هغه داسې چې تاسو ټول راته د زړهٔ له تله دعا وکړئ او په جګ غږ دوه واره ووایئ. پیران حق دی او کرامات یې حق دی.

پیران غرهٔ ته وختل او خان ګل کورته وکشېد.سم له واره یې ګلپانې ته یو څو کرښې ولیکلې. د نورو خبرو ترڅنګه یې دا ټکی هم ولیکل:

زېړے مې دربانډې، زمونږ د ارمان د رېژېدو وخت نېژدې دے. زهٔ کور سینګاروم او ته نکریزه خوشتوه.

خان ګل سحر ماښام د مور مخ ته په هیله هیله په ځېر ځېر کتل. د هغې په سوې ځېره کښې یې د جوړېدو نښې نښانې

لتولې پلټلې. پنځه ورځې تېرې شوې خو نهٔ يې مور تبې پرېښوه او نهٔ هغې کټ پرېښود. د پنځمې ورځې لمر په ډوبېدو و چې يوه بله اوازه ښکته پورته وښنګېده. لويو وړو په يوه خله ويل:

پيران تښتېدلی دی او د ونې خواته ډوغل دے. څه به يې ويستلی وی، هسې به نهٔ وی.

دې خبر د خان ګل ککری په توپه سوری کړه. له يو سوړ اسويلی سره يې بې واکه له خلېووتل:

هی خدايه! څه وشول، ابی په کټ کښې پاتې شوه او ګلپانه په ورهٔ کښې.

جون 2007

Pukhto.Net پښتو

# د ب پاکول

# غواړی

Pukhto.Net
پښتو

# ډب پاکول غواړی

د دې کلی زياتره ودانۍ له ختو ګټو جوړې وې. د زمکې او د دوی رنګ او بوی يو تربله دومره يو شانتيا لرله لکه چې له ازله همغاړی راروان وی. هر دېوال يې داسې دنګ لوړو چې سرته يې په کتوله سره ټوپۍ غورځېده. هره دروازه يې دومره غټه وه چې هاتيان پرې وتے ننوتے شول. په هر بام يې کوټلو برجونو د سليمان له غرهٔ سره غړی وهله. په هر بلۍ يې د وړمنو کشمالو کودی څنګ په څنګ پراتهٔ وو. په هره دړه يې پانورو چنارونو خپل ګور ښاخونه د مرغو ناستې ته غزولی وو او له هرې موړې يې رڼو چينو مستې چپې وهلې.

د کلی په منځ کښې د تازه اوبو ډنډ و. تش شين نهٔ بلکې تک شين ډنډ و. داسې رڼې او پاکې اوبه يې وې لکه اوښکه. يو ځپاند لختی ډکاوهٔ او يو بهاند لختی تر کروندې رساوهٔ. پېغلو به ترې منګی او بتکې راډکول او هيلو او وړو به په کښې يو تربله د لامبو سيالی کوله. په دې کلی کښې د ښښتلې وجود يو غټ کټ سړے هم اوسېدهٔ. دېنه ښايسته ځاندرې ځېرې ځښتن و. د لونګۍ شمله يې تر ټولو کليوالو هسکه ګرځوله او د خلبهر تکے يې د ګوړې چکی وه. يوه ورځ يې خپل زوی ته د پام راګرځونې په دود وويل:

ډاکټره! دا لختے دې وليد. څومره خرشکې وهی څومره ترپکې وهی.

زوی يې بې له څه ژويلو ځندولو خبره ورغبرګه کړه.

خان بابا! چې سترګې مې غړولې دی هم دا لختے هم دغه شان بهېږی او هم د دې کلی هم دغه ډنډ ته غورځېږی. په دې کښې څه نوې خبره هيڅ نهٔ ترسترګو کېږی.

خان بابا په داسې حال کښې چې د لونګۍ په ولونو يې

www.pukhto.net

منګول تېوله، وويل:

زويه! زۀ هغه سترګې غړېدلې نۀ ګنم چې د سبا په اکر يې نظر نۀ پريوځي. لختې چرته ځي دا هر وګړے ويني، سترګور بايد دا وګوري چې چرته يې تلل پکار دي. پسې يې زياته کړه، هاغه ستره شولګره ويني، ډېره ده او ډېرو اوبو ته پامته داره ده. دا ستا ده او ستا د ټبر ده. دا زمونږ د کورنۍ شمله هم ده او خمبه هم. د دې لختې يون د کلي ډنډ ته نۀ، ستا دغه ونډ ته پکار دے.

ورځ تر ورځه لختے لپه لپه په کمېدو شو. اخر داسې وچ شو چې چونګ ترې هم نۀ ډکېدۀ. يوازې د نواګو او د کورونو کارېدلي اوبه وې چې دې لختې ته توييدې. خړې خچنې او صابون لړلي اوبه اوس په لختې کښې بهيدې. د پشکال شيبې چې به کاواکي شوې نو د کوڅو خاورې خزلې به يې دې لختې ته وسپارلې او نېغې به يې د ډنډ په سر زړوکو ونوستې. د پلاستك د کڅوړو، د شلېدلو څپلو يا د بل بې کاره بې پکاره څېز لپاره دا ډب يو نااعلان شوے خزلځائے وګنل شو. نور کورونه په يو اړخ، يوازې د ډاکټر له کوره به هر سحر کيچار کيچار هډوکي او د مېوو پوستکي دې ډب ته رسېدل. اوبه وې چې ډب شوې اخر سخا شوې. او بيا داسې شخا شوې چې خلك يې تېښتې ته راويستل. له يوې خوا د بين ډدوزو د پوزو په لتون پسې بدې ووهلې او له بلې خوا د ماشو سېل د ډب په سېل راووت. د سپلانو دا ځائے داسې خوښ شو چې دلته يې پخې کډې واړولې. پته نشته چې ماشو دغه پوهه په کوم ښوونځي کښې اخيستې وه چې داسې په تابين تابين وېش يې د سترګو په رپ کښې وکړ. د ډب يوه برخه يې د استوګنې، يوه يې د ساتېرۍ او يوه يې د اګو شاربلو لپاره وټاکله. د کلي چمونه او پلوونه يې هم په خپلو کښې ووېشل. په هر غولي مندو کښې داسې داډ ګرځېدل لکه چې شېخ ملي د دوی په نامه ليکلی وی.

ډاکټر صېب له مخې سره د خپل کور هرې کړکۍ ته ښه ګڼ ښلے جال ولګاو. د ماشې پلار څوك و چې د هغه په کټ يا د کمرې په ګوټ کښې برنګېدلے وے. دېخوا د کلي خلك ماشو

www.pukhto.net

بد بد ایسار کړل. د چا یې مخ چیچهٔ او د چا یې لاس. چې څوك یې چیچهٔ نو تبې نیوهٔ. چا د تبې له زوره پلپوټ کاوهٔ او چا د جوړونو له درده زبیرګی کول. ډلې ډلې تبژلی د ډاکټر کتنځی ته روان شول. اوس کتنځے د پخوا په پرتله زیات ښکلے او سنجېدلے ښکارېدهٔ. د لویو وړو، ښځو او سړو د ګڼې ګوڼې له مخه داسې ودان برېښېدهٔ چې د قیصه خوانۍ بازار یې سیالی نهٔ شوه کولاے ډاکټر په یوه پسته چوړلېدونکې کرسۍ ناست و او د ناروغانو کتنه یې کوله . د چا یې سترګې کتلې، په چا یې ژبه راایستله او چاته یې د وینې د ازموینې کولو وېنا کوله. چا ته یې ځینې داروګان له خپله اړخه په ویړیا بیه ورکول او چاته یې بیخی هسې ډالۍ کول. د کلی نبك زړو سپین زړو خلکو د ډاکټر دا ښېګړه په ډېرو ښو تکو ستایله.ویل به یې:

ښه سړے دے، قسم دے چې سم سړے دے. ماشی خو خدائے پاك پیدا کړی دی. ناجوړتیا خو د الله له لوری ده. زمونږ د خپلو بدو عملونو سزا ده چې رارسی. له ډاکټر سره دې خدائے ښه وکړی. د خدائے لپاره یې زړهٔ راباندې سوزی.

د ډاکټر په پوهه او نبك چارۍ د هر وګړی تینګ باور و. هم د هغه په مرښو لاسونو کښې یې د دې ستونزې هوارے لیدهٔ. دغه باور یې هاغه مهال لاپسې غښتلے شو چې هغه د کلیوالو یو دروند ټولګی ته په ډېره خواخوږۍ وویل:

ماشی له بل هېواده نهٔ راځی، چې چرته اوبه ډب شی او سخا شی نو هلته ماشی مچان راشی. مخنیوے یې پکار دے، خلاصے ترې پکار دے، چې ګران نهٔ دے اسان دے که اوبه رنې شی نو ماشی به ورك شی. خو ملګرو دا کار په یو هېږ ترسره کېداے نهٔ شی بلکې په دمه دمه او پړاو په پړاو یې بوتلل ګټور دی. تاسو ټول کلیوال ژمنه وکړئ چې د ډب له نور سخا کولو څخه به ډډه کوئ. نور ډاډ اوسئ او هیڅ اندېښنه مه کوئ. ډېر زر د روغتیا له چارواکو سره مرکه کوونکے یم چې په هر کور کښې ماشی وژونکی زهر جن داروګان وشیندی. ها! پال کوئ او پام هم کوئ چې د چا هاغه او دغه ډاکټر نه څه زاړهٔ وراستهٔ دارو ونهٔ خورئ.

www.pukhto.net

ځینو کلیوالو به هره ورځ د ولاړو اوبو له سره څه چخچې توتنی تولول راټولول او ایسته به یې ګوځارل. ډاکټر صېب به هم کله کله پاوپلی تېل دارو د ډب غاړو مورګو ته نوستل، خو ډب و چې د نهٔ پاکېدو قسم یې خوړلے و. اخر اوبه داسې سخا شوې چې له سخاوالی نه تورې شوې. د بین شخړې یې دومره توندې او مستې شوې چې ټول واګی یې ټول په ټوله وشلول. نهٔ یې مخې ته کوم برید ودرېدهٔ او نهٔ پوله. له هرې دړې مورې یې پښه واړوله. له دې کچ سین نه هم تېرې شوې او له هاغه غټ سین څخه هم پورې وتې. د یو غوره استازی په حېث یې د درستې نړۍ مردار خوښی خبر کړل. لکه د یو سوچه پښتون یې هر ښهٔ او نا ښهٔ مېلمه ته د حجرې دروازه وازه کړه. دې بلنې خبرونې ته هر زهرجن او لشه ایز تود هر کلے ووې. هر داړه ور او پنجه ور د ډب په لور روان شو.

د دې نوو ښکاریانو په بهیر کښې یو نا اشنا زهرجن نوغی هم ګډون درلود. داسې عجیبه نوغے و چې د ژوپوهنې په یو کتاب کښې یې هم هیڅ یادونې شوې نهٔ وې. دوی لکه څاروی ګرځېدل هم او لکه مارغان الوتل هم. د تن دواړو خواو ته یې سرونه وو. یو سر یې سپین او تور و او بل یې خړ او برګ و. دواړو سرونو یې اوازونه کول چې ډېر خوارهٔ او په زړهٔ پورې لګېدل. دواړو سرونو یې داړې لرلې چې ډېرې تېرې او اوږدې وې. هره داړه یې د زهرو پونۍ او د چیچلو مرنۍ وه. له ټول کلی نه یې کرښه تاو کړه. هر اړخ ته خوارهٔ شول او هره خوا یې ناتارګډ کړ. نهٔ یې په چنار کښې شنه پاڼه پرېښوه او نهٔ یې غانټول او کشمالی وبخښل. هر سړے یې وچیچهٔ. لوے واړهٔ یې وزېل. د چا یې سر وچیچهٔ او د چا یې پوزه. ادیرې یې په مړو مړې کړې. چم په چم یې محرم جوړ کړ او په هر کور کښې یې ماتم جوړ کړ. بې شمېره زلمی یې پلار مړی کړل او بې شمېره جونه یې کونډې کړې. یو شمېر کسان یې دې ته اړکړل چې د ځان ساتنې په خاطر خپل کټ کټکے او نغرے تبخے له دې ځایه یوسی.

د ډاکټر صېب کور که هر څو په کلك وسپنیز جال

www.pukhto.net

خوندی و خو دغو خونړو نوکارو پکښې لارې وویستې. داسې قاریدلی پاریدلی ورننوتل چې د ډاکټر په ټبر یې اسمان راتیټ کړ. د ډاکټر ټوله کوړمه د تن په وینو ولمبېده. له ماشوم نه تر مېړمنې یې څرمنې په وینو سرې شوې. مخکښې له دې نه چې د سرله پرهره ډاکټر په تلپاتې خوب اوده شی، په خړپوسو خړپوسو له کوره تر کوڅې راووت. په داسې حال کښې چې ډب ته یې په وارخطا نظر کتل، په اسمان بلوسونکې چغه یې وویل:

یه د کلی خلکه! یه زما عزیزانو! ډب پاکول غواړی، اوبه رنول غواړی، هغه ما اړولې اوبه ورته بیا راواړوئ. لختے ورته راوتړئ. یه خلکه! یه زما سکه خلکه! لختے راوتړئ، د پاکو اوبو، د بهاندو اوبو، د ځپاندو اوبو.

اکتوبر 2008ء

Pukhto.Net
پښتو

# زياتے

# وؤ

Pukhto.Net
پښتو

# زیاتے وٴ

علی خان له ځایه لېونے نهٔ و. دغه کاني پرې وروستۍ شوې وې. په ماشومتوب کښې خدائے ښه ښایسته ځاندره څېره ورکړې وه. چې ګل رنګه وجود ته به یې مور او پلار کتل نو له خوشالۍ نه به من من غټېدل. یو وار چې په خپاړو خپاړو د منډو دړې ته ورسېد نو پلار یې خپلې مېرمنې ته په ګبین لړلی غږ ناره کړې: رانیسه دا چاقونے دې. چاچۍ یې ماتې نهٔ شی. دا تنکی لاسونه زما پولادی متې دی.

مور یې د هوسۍ په چال ورمنده کړه. ماشوم یې رااوچت کړ، سینې ته یې راجوخت کړ او خاوند ته یې وویل: ستا متې دی نو زما امسانهٔ ده څه؟

علی خان پل واخیست. په یو پسې یې بل واخیست. کله به ولیدهٔ او کله به پاڅېدهٔ. مور او پلار یې دې خماری خماری تګ ته نشه نشه پراتهٔ وو. ښه زیرك هلك و. ډېر زر یې خبرې وسپړدې. لکه توتی به چغېدهٔ. هر څه ته یې پام و او هر څه یې زده کول. په ښوونځی کښې یې هم هر کال د لوست سیالی ګټله. له هرې ازموینې څخه پس به هم دهٔ ته لاسونه پرقېدل. وخت لکه د اس په جوته روان و او د میاشتو کلونو پراوونه یې په شیبو کښې تر شا پرېښودل. هره ورځ علی خان د یو روښانه سحر نندارچی و او هر نوی سحر د علی خان شوندې ته یو یو ویښتهٔ ډالۍ کاوهٔ. دغو ټوکېدونکو وېښتو د علی خان د پلار د زړهٔ په ببره کښې یو نوی ټال ته ټالۍ ورکړه. په داسې حال کښې چې په سترګو کښې یې د یو ډاډمن راتلونکی روښانه پلوشې په غورځنګونو وې، د ښځې غوږ ته یې دا ټکی

www.pukhto.net

ورسول:

زياتے دے، ښځې ډېر زياتے دے. ځان دې داسې غلے کړے دے لکه چې هډو خبر نۀ يې چې زوے دې زلمے شوے دے. خوښه دې نۀ ده چې په دې سرو وپښتو کښې يې د سرې ډولۍ خاوند کړو.

د ښځې يې له خوښۍ نه سترګې وازې پاتې شوې. يوه ژوره ساه يې راښکله او ورغبرګه يې کړه:

اے زۀ خو وايم چې پرون مې ورته راوستې وا ے، ښۀ ښکلې ښاپېرۍ، سره سپينه شينوګۍ.

ښځه خاوند په دې خبره يوه خله شول چې د ښېګړې په ترڅ کښې بيا به شي سبا به شي کول د هوښيار سړی کار نۀ دے. له مخې سره د جينۍ لټه د دوی په ګټه ده. د ناوې لپاره د نوې کمرې او د نورو لوښو لرګو د سمولو جوړولو اړه تړه له وخته پکار ده. دواړه په دې هم سلا شول چې که پېسې نشته نو خدائے خو شته. د کڅ زمکه بايد خرڅه شی او د وادۀ تول پېټے پرې پورته شی.

د علی خان مور د ناوې په لټون او پلار يې د زمکې په خرڅون پسې متې ونغښتې. سم له واره د پټواری کارځی ته لاړ چې د زمکې کچ او ميچ سم وپېژنی او بيا يې له پوره رڼاوی سره په چا وپلو ری. هلته چې کله پټواری دا وويل چې نومووړې زمکه ستا نۀ بلکې د جابرخان په نامه ختلې ده نو د علی خان د پلار زړۀ له خپګانه خلې ته راوخوت. بې واکه يې له خلې نه ووتل:

زياتے دے، ډېر زياتے دے. د جابر کافر نۀ اروا مړيږی او نۀ يې سترګې. زما مال څه غوړه نوړی نۀ ده چې په اسانه به يې تېره کړی. که په جرګو مرکو ونۀ شوه نو عدالت خو چرته تلے نۀ دے.

هم دغه ورځ علی خان او پلار يې د دريم ګړو منځه ګړو له جرګې سره د جابر حجرې ته لاړل. جرګه په داسې حال کښې ستنه شوه چې بيخی تشه توره او سپکه سپوره وه. خبره منل خو يې پرېږده، اپوته يې له پلار او زوی سره شوك پار او

شرشاتار وکړل. یو ګوځار چې ګومان دے د توپك د کونداغ و، رسا د علی خان په ککری برابر شو. علی خان روغتون ته ورسېد او پلار یې د پولیس او عدالت په یوه نهٔ غوښېدونکي کرکېچنه لانجه واغوښت. پته نشته چې له درز سره د علی خان د سر کوم رګ وشلېد او که څه بله بودری وریپښنه شوه خو د مزغو تال او تول یې بې ځایه شول. اوس یې نهٔ خپل پېژندل او نهٔ پردی. نهٔ یې څه ویل او نهٔ یې اورېدل نهٔ یې غرمو څه کولاے شول او نهٔ باران ایسارولاے شو. کوز کوز به یې کتل او غلے غلے به ګرځېده. له ځان سره به داسې ګورمېدهٔ او لاسونه به یې ګوځارل لکه چې له بل بنده سره خبرې کوی. کله کله به یې بې ښې بې بدې په هټکو هټکو وژړل او په جګ غږ به یې وویل: زیاتے دے.

د علی خان شلېدلے ګرېوان او په خاورو ککړ مخ او وېښتان وو چې د کلی ماشومان یې په ځان پسې وپارول. د هغه له سترګو ورېدونکی باران او بیا بیا د زیاتے دے زیاتے وېنا هغه د وړو د ملنډو کړ. د ماشومانو چې به له ورایه تر سترګو شو نو د هغه د تنکولو قارولو لپاره به یې په یو نبپ چغې کړې. زیاتے دے، علی خانه زیاتے دے.

علی خان به هیڅ ځواب نهٔ ورکاوهٔ. داسې ښکارېده لکه چې غوږونه یې چورلټ کانهٔ وی یا په کبنې موتے مالوچان پراتهٔ وی. کله کله به یې سر پورته کړ، په اور ورینو سترګو به یې لویو وړو ته ګېر چاپېر اګیر بګیر وکتل او په پرله پسې دول به یې درې ځلور کرته په ډډ غږ وویل:

زیاتے دے، زیاتے دے.

دې چغو کوکارو مشران هم خندرویی ساتل. ځینې وخت به یې کشرانو ته په دروغژن خشم نارې کړې:

چوپ شئ، ځئ سارهٔ شئ، ولې دا عاجز تنګوئ.

ماشومانو هم د مشرانو اکر پېژندلی وو. د قلارېدو په ځائے به یې داسې توند تریسمار جوړ کړ چې له علی خانه به یې وارپار څه چې لار هم خطا کړه. مشران به موسکی شول، یو بل ته به یې وکتل او وبه یې وویل:

یره چا رښتیا ویلی دی چې وړو شیطان سترے کړے دے، چې سړے یو سړوی جو دېخوا بل تودیږی.
چا به ویل:
ښه کوی کنه مړه، دۀ خو هم ځان روغ لېونے کړے دے.
موسم ځوکه ځوکه ډډه بدله کړه. د دې ورشو په لر او بر کښې تاودۀ بادونه وچلېدل. یو خوا وچه کلکه سوکړه شوه او بل خوا د هاړ غرمو سکروټې وروليې. د زمکې مخ لکه تنور سور شو او د خلکو په ککرو کښې مازغۀ په ایشدو شول. هره شنه پانه سوزېده غورځېده او هره چینه کمېده وچېده. په وړو وړو مېښوکو جوړې کړې د نرو ډکو پستې جالې مارغانو پرېښوی او کیږړې په کښې دېره شول. دغه ناتاری وچوبې تودوخې د علی خان پښو ته د نورو چاقېدو هڅونه لمسونه وکړه. اوس به ټوله ورځ د کلی په کوڅو کښې او په جل وهلو پټو کښې ایسته اوسته ګرځېدۀ.
په ګوټ کښې ناستې او په کټ کښې ملاستې هیڅ خوند نۀ ورکاوۀ. دغه ورځ هم له کوره ووت. ګړندے ګړندے روان شو. دغه کږې وږې کوڅې ته سم شو. د جابر خان دراوزې ته چې ورسېد نو ناڅاپه یو داسې دروند ډز وشو چې ټول کلے یې وجړقاو. د جابر په کور کښې پراتۀ چاودونکی مواد د ګرمۍ له زوره وچاودل. د کور هر دېوال نسکور شو او هره بلۍ یې ونړېده. سرې لمبې پرې بلې شوې او تور لوګی ترې پورته شول. ټوله کوړمه سوې سکارۀ شوه او دغه لویه مانۍ تالا ترغه شوه. هغه بېرغ هم ایره ایره او ګارې وارې شو چې تر لاندې یې په یوه لویه تخته لیکل شوې وو:
د خېرخواه قامی ګوند مرکزی دفتر.
له دې ګرز سره علی خان تیندك شو او د مخامخ چنار تنې ته ډډه شو. خلك وایی چې په دې حجره کښې له یو درز سره یې مازغۀ خوځېدلی وو او له دویم درز سره بیرته په ځائے شول. سترګې یې وغړولې، په ځېر ځېر یې د جابر ړنګې مانۍ ته وکتل، ټق ټق په خندا شو. د چاخبره شین شوله خندا

www.pukhto.net

نه. په واز کومی یې چغې کړې. زیاتے نهٔ دے، نهٔ دے، چا وې چې زیاتے دے. څوك وایی زیاتے دے. زیاتے نهٔ دے زیاتے و.

اپریل2009ء

Pukhto.Net

# د ملالي ټپه

Pukhto.Net
پښتو

# د ملالۍ ټپه

ناڅاپه د ختیځ له خوا څلور هیلی کاپټرې راښکاره شوې. د دوی د تریخ غرپرله مخه په هر مخ کښې وینه ورکه شوه. لوے واړهٔ یې په ننداره شول. لویو له خدایه د خېرغوښتنه شورو کړه او ځینو ماشومانو یو تربله په دې خبره نښته جوړه کړه چې کوم هیلی کاپټر ویشتونکے دے او کوم یو څارونکے دے. الوتکې ډېرې چټکې راورسېدې او د کلی لپاسه یې دوه درې چورلکې ووهلې. په دوی کښې دوو په ډېر زیږ او متاك اواز سره مړدکی ورول شورو کړل. د غرهٔ غاړې لمنې یې په پولادی کانو وټکولې او د کلی دوه درې ودانی یې هم په توده سیکه وداغلې. چې زهر جنې ججورې یې تشې شوې نو ټولې بیرته ستنې شوې. سم له واره پسې د توپچې مړدکو د غرونو سرونه، مېرې او کڅو نه په بله واړول. ورسره یې د کلی ځینې کچه او پاخهٔ کورونه هم په لوګو او لوخړو کښې پټ کړل.
داسې تندرین تق او چړق جوړ شول چې زړونه یې په سینو کښې دننه چول. له هر کړس سره هر کس داسې ګڼله چې هم د هغه کور یې نسکور کړ. چا دېوال ځان ته ډال کړ او چا د بل شی ترشا پناه واخیسته. له هره ګوټه د ورتو کریکو او کوکارو سهم جنې چغې پورته شوې. دې غرب او درب خو ترنیمې ګنتې د غوړونو پردې شلولې، ولې د رنجکو بین تر ډېره وخته پوزې لړزولې. نازو په ډېره تلوسه خپل خاوند سوات خان ته وویل:
هله بهر ورشه. وګوره چې د چا ډېره یې ادیره کړه او د چا کور یې په اور لګېره کړ.
په خپله مات زړهٔ نغری ته وراغله. سوې ډوډۍ یې له

www.pukhto.net

تبخی را اوچته کړه او بله یې پرې واچوله. سوی یې سمول او پوکی ته یې جوړول چې ګاونډی په دېوال سر راپورته کړ او په لنډو ټکو کښې یې د نازو غوږونو ته د دغه نوی قیامت خبرتیا ورسوله. نازو په تادی تادی خپل ترڅنګه په کټکی ناست ماشوم زوے په غېږه کښې ونیو او وارخطا وارخطا چغې یې کړې:

اے هغه لوے ګانے هلك وګورئ، چرته ورچنې وتلے دے. په دې مینځ کښې د نازو څښتن زیر زبېښلے کور ته راننوت. په داسې حال کښې چې مشرے زوے یې له ګوتې نیولے و، په ساه نیولی غږ یې وویل:

نازو د مړو ژوبلو خبرې پرېږده. لاس خوځوه، تیارے کوه. فوځیانو د مازیګر پنځه بجې وخت ټاکلے دے. په کلکه یې ویلی دی چې کلے خوشے کړئ. پیاده تګ دے، وخت لږ دے، هسې نه چې لارې بندې شی. بیا یې خپل کشر وړور ته مخ ورواړاو. په زور زور د لاړو تېرولو سره یې مرۍ لمده کړه او په غړپو نیولی غږ یې وویل:

مشاله! بابا خو په دې زړو هډوکو او ناروغه ځان نهٔ تلے شی او نهٔ یې وړے شو. څغله وروره د ګلدا له کوره د لاس ګاډۍ راوله.

د باباغوږ ته چې دا غږ ورسېد نو د څنګلې په مرسته یې سر له بالښت یو پوټے را اوچت کړ او ویې ویل:

ځئ بچوړو تاسو ځئ. ستاسو سر ته دې خدائے خبر کړی. چې تاسو ووځئ نو زړهٔ به مې په قلاره شی. زهٔ به په کور کښې یم. ډك کور دے، خوشے یې سړے څنګه پرېږدی.

نازو په منډه د سخر کټ ته ورلنده شوه او د پخلاینې په دود یې وویل:

بابا! کورونه په لوښو لرګو نهٔ ډکېږی بلکې په انسانانو ښکلی او ودان وی. په سامان غل غلچکے لګی او که د توپچی مړدکے، پروا یې مه کوه. چې مونږ ژوندی یو هر څه به ډېر او تېر شی.

د بابا اوښکې د لېمو لمنې راتېنګې نهٔ کړے شوې. رڼې رڼې اوښکې یې د سپینې ږیرې په سپینو تارونو وڅڅېدې. په

رپاندو شونډو يې وويل:

نازو! زۀ پيالو پتيلو ته نۀ خپل پت او پښتو ته کښېنم. ددې کور هره دړه او دېوال تشه لوټه ګټه نۀ ده بلکې زما د پلار نيکه د نامې او شملې ښېلګه هم ده. لورې چې مچ پرې بلسېږی نو زړۀ مې نړېږی.

نازو د سخر له خلې نه خبر واخيسته او په مرورو اکرو يې وويل: بابا چې تۀ نۀ ځې نو زۀ هم نۀ ځم.

د نړور د اخلاصمنې غوښتنې په وړاندې د بابا دريځ په نيز لاهو شو. په تت غږ يې وويل:

پېزار مې رانېزدې کړه او دا دارو مې کڅوړې ته واچوه. پسې يې زياته کړه. مشال غوجلې ته ولېږه چې د مېښې له غاړې غوړندے پرانزی. چار پايه دے، که له لوړې تندې مړ شی نو ازار به راپسې شی.

نازو له مخې سره د تولو کمرو ورونه کلك راپورې کړل. کله چې يې د خپلې استوګنې کوټه بندوله نو د غېږې ماشوم په کټ کښې پرته خپله د لوبو تماچه وليده. د ژړا له سازونو سره يو ځائے په ژبماتی ګړدود خپلې خوږې مور جانې ته ژه شو.

بې ماچه اکا، ماچه اکا.

نازو له قاره سمه ورته پرته شوه. د ماشوم د ملا مروړلو سره يې وويل:

چوپ شه سپېرۀ. ايسته دې ورکې شی دا توپکې دا کوتکې.

دوی په اغوستو جامو کښې ووتل. وهلې پېړې ترې په ښانك کښې پاتې شوې او غورځولې دودی ترې په تبخی پاتې شوه. نازو چې له درشلې پښه کوځې ته اړوله نو پښه نيولې شوه. بيرته يې په خوارو خوارو سترګو کورته چارچاپېره وکتل. بيا يې اسمان ته سترګې ونيوې او د يو سوړ اسويلی سره يې همغاړی وويل:

پاك خدائے دې خېر کړی.

دوی روان شول او کله چې د کوځې په کړلېچ کښې

www.pukhto.net

تاوېدل نو پنځه شپږ جنګیالی یې دلته ولاړ ولیدل. دا ډلګی په درنه وسله سمبال وه او له زاړهٔ غونی یې داسې برېښېده لکه چې سرونه یې په تلی کښې نیولی وی. د ډلګی مشر په ناڅاپې ډول په ډډغږ وویل:

دا پینځې به پخپله اوچتې کړئ که زهٔ یې درله اوچتې کړم. پسې یې زیاته کړه. جینی پټ کړه دا سخا ویښته دې.

نازو لکه د پارېدلې مچې سره لمبه شوه. سترګو یې سکروټې او ژبې یې بخرې ونوستل. له سره یې پړونې نور هم کوز کړ او ویې ویل:

دا ویښتهٔ یادوې. زما ویښتهٔ. د دې ویښتو خو له پرښتو هم پرده وه. دا مخ خو د حیا په سلو پردو کښې پټ و. تا بې ستره کړم. تا بې قدره کړم. تا بې کوره کړم. څنوره تا سرتوره کړم.

د وسلوالې ډلې یو شل کلن غړی چړه په لاس کښې وپړقوله او د دې تکو په ویلو سره یې پړه د نازو په غاړه واچوله:

چې داسې خلك وی او دا یې خبرې وی نو شریعت به څنګه راشی. هم ستاسو په شان خلکو ته قران منافق او مرتد وایی. چې اوس درنه دا سر پرې کړم او تنه دې نسکوره زوړنده کړم نو هله به مسلمانه شې.

سوات خان د جنګیالی ترزنې لاس لاندې کړ او دوه لاسی بخښنه یې وغوښته. لاروی هم ترمنځه شول او جنګیالو ته یې د ناکام کولو خواست وکړ. دېخوا بابا په مړژواندی اواز نازو ځان پلو راوبلله او د ښوونې په توګه یې ورته وویل:

زویه ته یوه لوستې جینۍ یې. ښه پوهېږی چې له دوی سره نهٔ خله وهل ښهٔ دی او نهٔ ښکر وهل.

نازو د بابا له ګاډۍ سره څنګ په څنګ روانه شوه او د هغه د خبرې په غبرګون کښې یې دا تکی پکار کړل:

بابا چې څوك خله نهٔ وهی. د هغه خله وهل کیږی. بابا په کتاب کښې راغلی دی، منل یې پکار دی، څوك چې له کلی کوڅې داړونکی ځناور نهٔ شړی، د هغه د تن څرمن په خونړی

دارو خیرېږي. دلته کوڅه په کوڅه داړور ځناور ډانګه لګی ګرځي. نهٔ ورته څوك کوږ وایي اونهٔ پشي. ډاډګېرنه یې هم کېږي او پالنه هم.

مشال چې د باباګاډی ته تېله ورکوله، په خبرو کښې وار واخیست او ویې وویل:

ورنداري! خبره دې سمه ده. زمونږ د متوګټلي روپۍ دي او زمونږ د مېرمنو بنګړي او والۍ دي چې د توپکو رنځکو لوبه پرې تونده توده ده. مونږ له خپله لاسه خپلي خوني لټاړې او خپلي حجرې شاړې کړې.

نازو د نا په دود سر ورقاو او د خبرو لړی یې داسي وغزوله: نا، داسې نهٔ ده. تاریخ یو واربیا د پښتون هډوکی په مېچن مېده کړل. د وخت مغل بیا د پښتون په هېواد کښې لښکرې خورې کړې. پېژندل غواړی، سم پېژندل غواړی چې زما پی مخی غانتبول کومې ړلی ورپېژول. دا وړمن کشمالی کومو بې رحمو ګوتو ومروړل. ستا خوږې کروړې په کومه بدبخته لښته وتکېدې. دا د کور ګنګوچی د چا په مړدکو سوری سوری شول. دا ښایسته نښتر او چنار چا وسېزل. له دې شنې ورشو نه شنهٔ لوګی چا پورته کړل. زما سندربوله ښارونی چا ازار کړه. ستا له حجرې نه منګے او ستار چا وتښتول. ستا د وړو په لاس کښې قلم چا چوك پوك کړ. مشالله! دا توپك مار یې ډېر لږ ذمه وار دے. دا وسله وال د اسلام ریښتونے مینه وال دے. دا غل نهٔ دے، غولېدلے دے. غل بل دے چې پېژندل غواړی. سم پېژندل غواړی، پوره پېژندل غواړی.

مشال په هك پکتیا سره پوښتنه وکړه. چې دا نهٔ دے نو څوك دے؟

نازو ماشوم بلې څنګلي ته واړو، په ډادمن غږ یې وویل: غل ښکاره دے، په ګوته کوم یې درته. خوګاډی په قلاره قلاره بیایه، ډېرې درینجکې مهٔ ورکوه، هسې نهٔ بابا ته زړهٔ بد بد شي.

دوی لوے سړك ته ورسېدل او د شاوخوا له کلو بانډو څخه د راوتونکو کډو کوړمو په بهیر کښې ورګډ شول. سړك له

www.pukhto.net

خلکو برجغ و. داسې ګڼه ګوره وه چې ښکته پورته يوه ککرۍ وه. چا لټې غوټې راخيستې وې او چا ماشومان له ګوتو نيولی وو. ځينې سپين ږيرې د امسا په اسره خوځېدل او ځينې ناجوړه د زلمو د اوږو پيټی وو. د سرونو په دې ځپاند سمندر کښې د هغه پرهر ژلو زګويرې هم غوږونو اورېدل چې د مارتړو په چړو يې غوښې تس نس تلې وې. ځينو زلمو خپلو ښځو او وړو ته ځکه سکروټې په غاښونو چيچلې چې ولې ګړندی نۀ ځی او څله پښې راکاږی. دښځو پښې چې په تلو تلو و پړځېدې نو پېزارونه يې په لاسونو کښې وينول او سترو ماشومانو په ژړا ګوتې پورې کړې. هر سړے په خپلو خولو کښې ډوب خوشت روان وو. د دې جاج اخيستو ته هڅو د چا پام نۀ و، چې د کومې جينۍ مخ پټ دے او د کومې ښکاره دے. د کومې پېغلې پوستکے روڼ دے او د کومې سکڼ دے. هيچا هيڅ نۀ ليدل. که ليدل يې نو يوازې د خپلې حيا د جنازې په وتو ويرژلې لېمۀ يې ليدل. د خپلې سپېڅلې پښتو په کچه کېدو سوې څېرې يې لېدې. د پښتون د وياړلې شملې د ټيټېدو ناوړه ننداړې يې ليدې.

ناڅاپه د نازو يوې ښځې ته پام شو چې ماشومه لور يې تشی ته اړم کړې وه. له ډېرې ستړتيا يې د ملا ستنه ماتېده. او پښې يې د زمکې منګولو ځان ته رانيوې. نازو چې پخپله هم له لاده باده پرېوتې وه خو دې رېږدونکو لېنګو يې زړۀ په ازغو وکېرۀ. ور په دوشوه او ويې وويل:

خورې راکړه جينۍ.

ښځې د ماشومې له ورکولو سره نازو ته په خوږو خوږو وکتل. وښکی يې له خوښۍ نه کاږۀ واړۀ شول. ژبې يې څه ونۀ ويل خو دواړه سترګې يې د منننې له اوښکو ډکې شوې. بابا په ګاډۍ کښې سر رانېغ کړ او په ستومن غږ يې نازو ته خپله مينه او مننه پېرزو کړه. خدائے دې وبخښه لورې! شتۀ پيټی دې متې ماتې کړې، تا پرې نور هم سربارے کړ.

نازو په ورين تندی ځواب ورکړ:

بابا په کتاب کښې راغلی دی، منل يې پکار دی. څوک چې د بل پيټی ته اوږه نۀ ورکوی نو خپل پېټے يې تل د ولو بار

www.pukhto.net

وی. مشاله ته یې هم واوره. ټول انسانان یو ټولے او ټبر دے. د نړۍ د هر ګوټ هر وګړے د ادم د کالۀ قدرمن غړے دے. زمونږ د ټولو ښه او بده یوه ده. تردې زیات په دې پوهه شه چې دا مېرمن پښتنه ده. ډېره زیاته درنه ده. بیټ نیکۀ چې له خدایه غوښته، هغه دا ده. د دې پړونے د خوشال شمله ده. د دې څادر د ابدالي توغ دے. دا د ادم درخانۍ ده او د مېوند ملالۍ ده. دا پردۍ تور سرې نۀ ده. زما سکه خور ده. زما او د دې کور هم یو دے او اور هم. زمونږ عزت هم یو دے او پېغور هم. د دې له سره چې پړونے راکاږی، هغه نۀ انسان ګنم او نۀ مسلمان. دغه ناولے لاس د پښتون قسم خوړلے دوښمن دے. پکار ده چې په شریکه یې مات کړو او خپله مرۍ او تنۍ ترې خلاصه کړو. بابا په کتاب کښې راغلي دی، منل یې پکار دی چې د امن او قلارۍ لپاره د یو کس نۀ بلکې د اولس پاڅون پکار دے.

بابا د نازو خبره پرې کړه او خپله یې ورسره کوشېر کړه:

زویه! خبره دې ډېره غوره ده. ټول پښتانۀ خپلو کښې یو غوښه هډوکے دی. زمونږ غلیم او خواخوږے د شریکې دے. نازو ډاډ اوسه. پښتانۀ په غدۍ پسې چغه وهی. په دوښمن پسې ملاتړ کوی. که غل ورته په نښه شی نو دغل د ډبولو چل یې ښۀ زده دے.

مخکښې له دې چې نازو شونډې وخېږی او کوم ټکے ترې سر برخېره کړی، سوات خان سمبال کړی ماشوم په وچ ستونی نارې کړې:

مور تږے شوے یم، اوبه راکړه.

نازو چې د زوی سوی مخ او وچو شونډو ته وکتل نو زړۀ یې تخ مخ شو. د فکر په لوړو ژورو کښې یې د دې انګۍ انګازې وګرځېدې چې دا د لوبو ماشوم، دا تنکۍ غوټۍ او دا د جنت مرغۍ په کومه ګناه کړیږی او د چا په تېلو کښې سوزی. زوی ته یې د ډاډګېرنې په توګه وویل:

زویه! دلته خو نۀ لښتے شته او نۀ کوهے شته، هاغه

www.pukhto.net

کلی ته لږه لار پاتي ده، لږ صبر وکړه.

کلی ته لارسېدلی نهٔ وو چې ټول لاروی له پاخهٔ پلن سړك نهٔ د پټو تنګې او کږې وږې لارې ته کوز شول. زرګونو پښو له خاورینې لارې دومره دوړې او لړې پورته کړې چې چا په لس قدمه کښې خپل پردے نهٔ پېژندهٔ. دغه ځائے ته په رسېدو نازو د پوهېدو هڅه وکړه چې ولې خلك له پخې نه کچې ته کوز شول. دغلته یې یو شمېر فوځی ځوانان ولیدل چې شیش اخیستو ته چمتو ولاړ وو. د شګو ډکې بوجۍ یې پرله باندې یښې وې او ازغن تار یې په لار کښې غزولے و. هر تلونکی زلمی ته یې په داسې اور ورین او تندرین نظر کتل چې ګنې د هر یو غاړې ته چاودونکے جېکټ زنګېږی. د چا یې د پېژندپاڼې پلټنه کوله او له چا یې ژبنۍ پوښتنه کوله. ځینوته په دې رڼاوی کښې د سپکاوی رنګ له ورایه ښکارېدهٔ. د نازو له خپګانه په سینه کښې اینه ټټاکې شوه او تر شونډو لاندې یې وویل:

مړهٔ هم مونږ شو او پړهٔ هم مونږ شو.

لس قدمه وړاندې ګس اړخ ته دړې وړې پروت الوتی پل د نازو سول تاوانی کړ. د پل ترڅنګه چې یې د کنډکپر شوی ښوونځی نسکوره ودانۍ ولیده نو په سور پرهر یې سور مرچکے ودوړېد.د خوړین زړګی تك تور لوګی یې ځان په دې ټکو کښې ونغښت:

بابا په کتاب کښې راغلی دی، منل یې پکار دی. پل لاره لنډوی او قلم د دغه لار په هر پړاو کښې مشال بِلوی او بلوی. ښوونځے د انسانی ټولنې ګل ورین سپرلے دے چې وږمې خوروی او رنګونه زېږوی. مشاله دغه بې سترګو دوښمن زمونږه سترګې ړندې او ژبې پرې کړې. زمونږ پښې یې شلې او ګوتې یې غوځې کړې. وروره دغه کبرجن د بخښنې نهٔ بلکې د سپی په مرګ د وژنې جوګه دے. د دغه تورمخی دواړه مخه تورول پکار دی.

په ماشوم یو وار بیا د اوبو داسې اینګ راغے چې ټینګ ورته نهٔ شو. له موره یې غبرګ لاسونه تاو کړل او

www.pukhto.net

لېونۍ تنده يې په دې تکو کښې ښکاره کړه:
مور اوبه ولې نۀ راکوې. دغه کورنۀ دے څه. راوړه ترې اوبه ښا. ښا مورې.
له دې غونې ودرونکی غږ سره د نازو اندام اندام او وېښتۀ وېښتۀ وبوړنېد. داسې ګډه وډه شوه لکه د مرغۍ جالې ته چې مار وځېږي او مرغۍ په خپلو بچوړو اوتره اوتره بنېړۍ او چنېږۍ. له مخې سره ځېلمه کورته ورننوته. نوره کورنۍ د ببېك په وړاندې د شاتوت سيورۍ ته اتاله شوه. په دې کلي کښې لږه غوندې قلارۍ وه ځکه نو د شاوخوا اوسېدونکو دلته پناه اخيستې وه. په دې تنګه جونګړه کښې هم درې څلور کدې يو ځائے ميشته وې. نۀ په کښې د ناستې ځائے چا موندۀ او نۀ د ملاستې. د وړو له زوړه هيڅ غږ د چا غوږ ته نۀ رسېدۀ. نۀ په کښې د کوربه پېژندګلو کېده او نۀ د مېلمه. خو د کور د مېرمنې هرې خوا ته پام و. د نازو په لېدو راولاړه شوه. پخېر يې ووې او تپوس پوښتنه يې وکړه. د اوبو په ځائے يې نازو ته ډك منګوټے يخې پخې شوملې ورکړې . ورسره يې د خواخوږۍ په خوږو خوږه ژبه د ست په جوړ داسې وخوځېده:
ډېر به ستړې شوې يۀ شپه دلته تېره کړۀ. سبا به ځۀ له خېره. نازو موسکۍ شوه او ويې وويل:
ستا په کور کښې خو اوس هم مېږے لار نۀ شی
موندے. ماته دې لويې راکړه. خدائے دې نوره هم درنه کړه. که شپې ته ايساريدو نو په دې کوزپلو کښې مې د ورندارې د خورزې کور دے، هلته به پاتې شو. شوملې ټولې کوړمې ښه په خوند شخوند وڅښې. د ماشوم د تندې اور چې سوړ شو نو د مور په غېږه کښې يې سرکېښود. پندۍ يې په لاسونو کښې ونيوې او له مورنه يې تپوس وکړ:
مور دا خلك مونږ ولې وژنی، مونږ له کوره ولې وباسی، مونږ چرته روان يو، مور ډېر ستړے شوم ډېر.
نازو له ماشومه لاس تاو کړ، ځان پورې يې جوخت ونيو او ويې ويل:
زويه! ملا دې ټينګه وتړه. ښه ستړے ښه يې. چې

www.pukhto.net

څوك سترې نهٔ شي په سترګې اوړی. بچیه دلته غریب همېشه غربېږی. دلته بې څوکه ته څوك د انسان په سترګه نهٔ ګوری. زړګیه ستا نهٔ کور او کلے شته، نهٔ دې غمخور او ملګرے شته. ستا مثال د سخالختی د سرهٔ چنجی دے. ستا په مرګ د چا څه او ستا په ژوند د چا څه. تهٔ لا ډېر وړوکے یې زویه. تهٔ نهٔ پوهېږې چې د دنیا نوکارې څومره خونکارې دی.

باباد نازو خبره ونیوه او د ماشوم د خبرې په مرسته یې وویل: نوسے مې ښه وایی. مونږ خوهډو دې جرګې ته جوړ شوی نهٔ یو چې چرته به ځو. ستا څنګه خوښه ده، لورې؟

نازو په ځواب کښې وویل:

بابا که په جاله کښې پورې وځونو لار راته ستغېږی هم او اوږدېږی هم. بل په جاله کښې سورېدل خو ځان په زور د عزرائیل منګولو ته سپارل دی. که زما د ورندارې د خورزې کره ځو نو هلته به هم نور خپلوان راغلی وی او د پښې د یښودو ځائے به نهٔ وی. بل پته نهٔ لګی چې سترګې به یې راته ښکته وی که پورته. سوات خان غاړه تازه کړه او په خبرو کښې ورګډ شو. ویې ویل: ښه به دا وی چې نېغ په ښکته د شړونکو کېمپ ته لاړ شو. تېوله نړی لګیا ده په دواړه لاسه خوراکی توکی او نورې مالی مرستې ویشی.

نازو په داسې حال کښې چې د خپګان چپې یې په مخ ډډې په ډډې شوې، د سوات خان راې یې په دې ټکو کښې ورټله:

زما وروور سوالګرے شو. زما خور خېرماره شوه. زما د پېغلې پلو د بل امبار ته وغوړېد. زما زلمے دړی چینی ته په قطار کښې ودرېد. زما حیا نېلام شوه. ستا پوزه پرې شوه. د سوال په زړوکی د افغان هډوکی پټېږی نهٔ، ښه لغړېږی. دغه خېرات که په ژړا ژړا اخلم نو لویه بې وسی مې ده. که په خندا خندا یې اخلم نو ډېره بې حسی مې ده.

د بچ شئ او لار وکړئ چغو دا غونډه تالا ترغه کړه. د هر چا پام دغه ګاډی ته وروګرځېد. یوه شپږ کلنه ګلالۍ ماشومه په کښې په وینو رنګ بنګ پرته وه. کولمې یې راوتې

وې او ګسه پاپې يې هم چق پق شوې وه. پلار يې ګاډۍ تېل وهله او ويني ويني اوښکې يې له سترګو څڅېدې. ماشومې د پلار له سترګو ورپېدونکی باران ته کتل او بيا بيا يې ويل:

بابا زۀ خو هسې هم مرم نو ته ولې ژاړې؟

په وړه کوګۍ دغې ارمان ژلي وېښا د هر اورېدونکی سترګې نچوړ کړې. مشال لکه د ژوبل زمري نازو ته سرې سترګې راواړولې او په ډېر خشمېدلی غوني يې وويل:

څوک دے دغه يزيد. څوک دے دغه چنګېز چې د پښتون بچو ته د وينو په ډنډ کښې غوپې ورکوی؟.

نازو سترګې د پړونی په پېڅکی وچې کړې، يوه اوږده ساه يې واخيسته او لګيا شوه:

په ډاګه دے. ډېر په ډاګه دے اوس به يې وپېژنې، سم به يې وپېژنې. مشاله په خلاصو غوږونو يې واوره. په کتاب کښې راغلی دی. منل يې پکار دی. څوک چې هر حکم ته سرټيټوی، سر يې ټيټ پاتې کېږی. ځينې ځائے ناويل او نۀ منل د ستونزو مخنيوے کوی. چوپه خله او پټې سترګې ګرځېدل بې حسی ده. بې حسه په ژوندو کښې مړے دے او د مړی برخه توره خاورې تورلحد وی. مشاله! دے ملامته دے. پړه د دۀ په غاړه ده. دۀ خله ګنډلې او سترګې پټې کړې دی. دے هرې ښې ناښې ته ښا وايی. دے هر غږېدونکی ډولکی ته ګډېږی. دے نېغه کږه نۀ پېژنی. دے د خپل مړی سر ته سرټکوی خو قاتل نۀ لټوی. دے د دې ناتار ذمه وار دے. دے، مشاله هم دے غل دے. ستا غل دے، زما غل دے.

بابا او مشال په يو اواز وويل:

نوم يې واخله، دے څوک دے؟

نازو د سوات خان مخ ته سترګې ونيوې او ويې ويل:

دے.

اګست 2009ء.

www.pukhto.net

# وران و

Pukhto.Net
پښتو

# وران و

دا سکول، هو دا ښوونځے وران نۀ شو. له پخوا نه وران و. دړې وړې پروت و. تش دېوالونه يې ولاړ وو. ځو ماتې ګوډې کرسئ وې، ځو پټ ختلي تورې دړې وې. دلته دوات نۀ تشېدۀ، دلته ليکانے نۀ سولېدۀ، ښوونه چرته وه، روزنه کوم ځائے وه. تونله مياشت د تنخا او چوټئ پحقله مرکې وې، اوږدې اوږدې قيصې وې، ترخې ترخې ګيلې وې. دلته چې لوے کار و، هغه په يکم د روپو شمار و.

هم د دې ښوونځي په کتاب کښې راغلي وو چې غلا روا ده. نقل د هر زده کوونکي حق دے. د دۀ هر استاذ په دې راز پوهه و چې دلې پاتې شي نو شاته به پاتې شي. سم سړے به نۀ شي، ښۀ ښارے به نۀ شي، ښۀ افغان جوړېدل خو پرېږده پرېږده، ښه مسلمان جوړېدل يې ناشونې دي. ځکه خو يې خپل بچي، خپل سکه بچي هاغه دي، دغه ګاوندي شخصي ښوونځي ته بستي وړي راوړي.

د دې ښوونځي غټ څارونکي هم وو. غټ ګاډي ورسره وو، او د غټ ښار استوګن وو. دغه واکمن ډېر فکرمن وو، د دې سکول پحقله، په چورلېدونکو کرسو به کښېنا ستل، دې سوچ يې سرونه خوږول چې څنګه د دې سکول په کاردارو استاذانو سرونه وچورلوی او څنګه د دې ښوونځي بنيادونه نور اوپره او کچه کړي.

دغه د رنجکو تندريني چاودني، دغه سرې لمبې او شنې لوخړې خو بس دومره اعلان وکړ چې وران خو هسې هم و، اوس راپرېوت. نښه يې ورکه شوه او تمه يې غوځه شوه. تالان پرې تالانګرو ګډ کړ. چا يې خښتې تښتولې او چا يې سيخان

www.pukhto.net

زغلول. یو کس، هم د دې کلی یو کس د غورځېدلی چت ماتې توتې په ډډه کولې. خښتې او شګې یې ایسته اوسته کولې، په دوړو کښې یې لت پت د کتابتون یو کتاب وموند. ویې څانډهٔ، سترګو ته یې نېژدې کړ، د خښتو منځ ته یې د ګورځارلو سره وویل: دغسې شلېدلے اوځیرې ویرې ښه یې، تهٔ یې زما بچو ته نهٔ یې لوستے. بیا یې په ډېر خشم د سیخانو په ماتولو پسې متې ونغښتې. له ځان سره غړمبېدهٔ، ګورېدهٔ او ویل یې: تالان دے، تالا کوئ یې. بدل ترې اخلم. دهٔ زما ارمان تالا کړے دے. دهٔ زما بچی تالا ترغه کړی دی. د دهٔ له لاسه، هم د دهٔ له لاسه څوك د منو په وطن کښې وړے نهر دے. څوك د امونو او مالټو په وطن کښې در په در دے او څوك د کجورو په وطن کښې تناکې لاسونه او سولېدلے سر دے.

په دې هله ګوله کښې، په دې شور او زوږ کښې یو غږ په غوږونو وبلسېد، ویل یې: وران نهٔ شو، وران و، بیخی وران و. وران به وی که بیا ودان شو، د تېر په شان.

جنوری 2008ء

www.pukhto.net

# ګرانه بابا جانه

Pukhto.Net
پښتو

# ګرانه بابا جانه

زما نیکهٔ، زما خوږه نیکهٔ! تهٔ په ما ډېر میین وې. په ما ډېر خوږېدې. ډېر ویرېدې چي ستا تېرغړی، دا چونګ وګړی چرته سپك نهٔ شی، چرته ورك نهٔ شی. دې اندېښني دې زړهٔ څڅاوهٔ، خوب تښتاوهٔ چي د خېبر لمنه شاړه نهٔ شی، ستا د لويې حجره، ستا د لونګی شمله میراته نهٔ شی. تا غوښتل چي تل ستا د بچو د سیالۍ زغل دې وی. د سلیمان په غرونو کښي، د ایلم په لمنو کښي زلمی په اتڼ دې وی. بابا، زما بابا جانه! تا غوښتل چي زیات دې شی. دومره دې زیات شی چي لښکر هم ولړی او سر لښکر هم ولړی. تا خپل رپېدونکی لاسونه بخښونکی خدائے ته په سوال ونیول. ستا له رنو رنو سترګو رڼي رڼي اوښکي څڅېدې. ستا د سپینې ږیرې په سپینو سپینو تارونو چپې چپې بهېدې. بابا، تا د لوے خدائے په لوے دربار کښي په سرتورې چغې کړې: لویه خدایه لویه خدایه، دا وګړی زیات کړې خدایه، لویه خدایه لویه خدایه.

ستا خوږمنې او اخلاصمنې چغې د عرش په منارو کښي انګې خوره کړه. بابا، د غوړې مرغې په شنو سر درو کښي، د افغان وطن په ژورو او رغو کښي اوازې شوې، انګازې شوې چي زیږی به، زیاتیږی به، ګنیږی به، خوریږی به. تا سر سجدې له وېوړ، تا مخ په خاورو کښېنود، تا وې: شکر دے خدایه. لویه خدایه، لویه خدایه.

مونږ ډېر شو. ډېر څه چي ډېر زیات شو. دومره ډېر شو چي له شمېره تېر شو. خو زما نیکهٔ، زما خوږه نیکهٔ، زما بېږ نیکهٔ، زما بېتنه نیکهٔ، ستا له مخه دې حیا وی، په ډېر درناوی درته خواست کوم، د خدائے لپاره، د لوے خدائے لپاره، خاورې تك وهه راوڅه، سرله څلی نه بهر کړه. دا نازولی بچی دې وګوره، دا نازبین بچوړی دې وګوره، تېتي

سترګي مات سرونه، د شرمخ په ولقه کښې دا بې شپونه کندکونه، کندر کلی وران کورونه، سوې لوې غاړې غرونه، ټکېدلی چنارونه. بابا، زما خوږه بابا جانه! د لوے خدائے په لوے دربار کښې یو ځل بیا لاس پورته کړه، یو وار بیا ترې وغواړه، په سلګو سلګو او په ژړا ژړا ترې وغواړه، دا ترې وغواړه: لویه خدایه لویه خدایه، دا وګړی هوښیار کړې خدایه، ویښ کړې خدایه، راټول کړې خدایه، لویه خدایه، لویه خدایه.

مارچ 2009ء

Pukhto.Net
پښتو

# پاریدلي

# اوبهٔ

Pukhto.Net
پښتو

# پاربدلې اوبه

نن د سوات سين هغه زوړ نۀ و بل و. بل څه چې بيخي بدل و. نن يې اوبه شنې رڼې نۀ وې. داسې خړې پړې وې لکه تورې ختې. نن يې چپې سندريزې نۀ وې. داسې سهم ناك زوړ يې كاوۀ چې ولې يې بوړنول. نن يې چال دمه ګير نۀ و. داسې ګړندے روان و لکه مردکے. داسې قاربدلے او خشمبدلے ښکاربدۀ لکه ژوبل زمرے. لکه ښامار پرشبدۀ او تاوبدۀ راتاوبدۀ. دومره ډېر او ډك و، چې خپل لوښے او لورے ترې ورك و. په غاړو وروخوت او په شاړو سر شو. مخې ته يې نۀ ختې تينګبدۀ او نۀ ګټې. هيڅ غر او کمر يې نۀ د لارې خنډ و، نۀ ځنډ. دواړو خواو ته يې خونړې لاسونه غزول. چې څه يې مخې ته ورتلل، هغه يې نړول او تښتول. لويې لويې ونې يې له ويخه واړولې. پخې پخې ودانۍ يې نسكورې كړې. هره لار يې زبېښله او هره وته يې رغړوله. ځينې پټې يې توږل او په ځينو يې لهې اړول. هر پل يې پرځاوۀ او هر كور يې جړقاوۀ. نن د سين تر څنګه كه هوټل و، كه دكان و، په برخه يې تاوان و. ځكه خو د اوبو په سر د ګرګو او لوښو لرګو يو اېړ و، چې روان و. خوړونه يې هم په شا تېولې وو. هغوى هم تول واګې شلولې وو. خرشكې يې وهلې او په ترپكو روان وو. هو دغه خوړ خو د هاغه كلي په كوځو كښې ګرځېدۀ. هر كورته يې كيچار كيچار ختې وړې او ننېستې. له هر غولې او منډو نۀ يې د شولو ډنډه جوړوله.

زمونږ په كلي كښې خو سم قيامت و. په چا لوے، په چا وړوكے. په چاپېرچل د غم تورې لړې پرتې وې. په هره څېره د ويرې او ترهې چپې خورې وې. هره خله په خدايه خبر، خدايه خبر او هره ژبه په توبه توبه خوځېده. كوم لېمۀ وو چې

رادېك نهٔ شول. کومه مرۍ وه چې غرپو ونهٔ نيوه. دغو ورتو کریکو ته څوك كله د تينګېدو و. دغو ميندو ته چې چا هم کتل، زړهٔ يې تق د چاودو و. دغه ښځو به کله د سين په مينځ کښې ولاړو ونو ته کتل او کله به يې په وچه ولاړو خلکو ته کتل. د هر چا مخې ته يې ويرژلو سترګو د سوال جولۍ غوړوله. د هر چا له زنې يې لاس لاندې کاوهٔ. هرې يوې بيل بيل ويل. اے په دغو ونو کښې مې زوے دے. زما د زړهٔ غندل دے. زما د زړهٔ غوښې دی. زما زړهٔ پسې خوريږی. د سين په مينځ کښې ايسار شوے دے. په دغو ونو پورې نښتے دے. ژوندے دے ژوندے. خدائے دې ژوندے ساتی. د خدائے لپاره پسې ورشئ، د خدائے لپاره يې راوباسئ. بيا به يې بې واکه بې ځانه نښتو هلکانو ته وکتل او وبه يې ويل. يه زما د بې څوکې خدايه، يه زما عاجزه بچوړيه، خدائے دې درته خبر کړی. چاڅه کولاے شول. چا هيڅ نهٔ شول کولاے. دغو ايلم ايلم او ښځی ښځی چپو ته چا چرته دنګلاے شول. وار په وار ونې نسکورېدې او يو په يو زلمے د اوبو داړو تښتاوهٔ.

نن د خړې خړتم ډېر وران و. هر څه ته په قار و. هر څه ته يې داسې بد بد کتل لکه چې هم دوی يې د ښترو بنې غوڅې کړې وی. په ارو په تبرګو. لکه هم دوی چې يې ګرېوان ته لاسونه اچولی وی، د پټو او د کوټو. لکه هم دوی چې يې واوره ويلی کړې وی، په لوګو او په لمبو.

اګست 2010ء.

www.pukhto.net